مؤسس: عبدالرووف بینوا
تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

هیواد
ورځپاڼه

دوشنبه | ۲۷ / محرم الحرا م / ۱۴۴۸ هـ ق | ۲۲ / چنګاښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/13 م | خصوصي ګڼه: ۸۴ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۵۵ مه | دوره: اتمه

د افغانستان او ایران تر منځ د ټرانزېټي اړیکو پر لا پیاوړتیا خبرې شوې

د هرات والي شیخ مولانا اسلام‌جار، د ایران د خراسان رضوي له والي سره د سوداګرۍ او ټرانزېټ د پیاوړتیا او د دوغارون او اسلام قلعه په سرحدي لاروکې د لا زیاتو اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه تیلیفوني خبرې کړي دي.

د هرات ولایت مقام رسنیز دفتر وايي، په دې تیلیفوني خبرو کې دواړو لوریو د توکو د لېږد رالېږد په بهیر کې د اسانتیاوو پر زیاتوالي، د سوداګریزو لارو د ټرانزېټي ستونزو پر هواري او د سرحد دواړو غاړو د اړوندو ادارو ترمنځ پر لا زیاتي همغږۍ ټینګار کړی.

دغه‌راز یاد دفتر زیاته کړې، د هرات والي ویلي، چې اسلامي امارت د ایران سوداګرو او موټرچلوونکو ته اړینې اسانتیاوې برابرې کړې او زیاته کړې یې ده، چې ایران هم باید افغان موټرچلوونکو ته ورته اسانتیاوې برابرې کړي.

نوموړي د ټرانسپورټي خنډونو د لا زیات لږي کولو او د دواړو غاړو ترمنځ د بار وړونکو موټرو د تګ راتګ د بهیر د چټکتیا غوښتنه کړې ده.

په ورته مهال د خراسان رضوي والي د دوغارون او اسلام قلعه له لارې د ټرانزېټي اړیکو د پیاوړتیا او د سوداګرۍ بهیر ښه‌والي لپاره د ګډې همکارۍ ډاډ ورکړی دی.

د هرات ولایت مقام رسنیز دفتر په وینا؛ همداراز هڅې روانې دي، څو د سرحد هغې غاړې ته هم دغه خنډونه لرې شي، ترڅو د اسلامي امارت او د ایران ترمنځ سوداګریزې او ټرانزېټي اړیکې لا پیاوړې شي.

د یادونې وړ ده، چې په دې وروستیو کې اسلامي امارت د ایران موټرچلوونکو لپاره ویزه او ردوپاس لغوه کړې، د سرحد دې غاړې شته خنډونه یې لرې کړي او اړینې اسانتیاوې یې برابرې کړې دي.

د مالیې وزارت له لوري په ځلورو مالیاتي برخو کې تخفیفونه اعلان شول

د مالیې وزارت مسئولینو د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې مالیاتي تخفیفونه اعلان کړل چې په همدې موخه راټولې شوې غونډې ته په وینا کې د ریاست الوزراء اداري مرستیال(مولوي عبدالسلام حنفي) وویل: «سهولت راوستل د اسلام کرښلاره ده چې په کارونو کې یې په راوستلو ټینګار شوی دی. د تېرو اسانتیاوو په دوام سره چې ۲۵ تخفیفونه ور کړل شوي وو، دا ځل هم د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی له لوري په مالیاتو کې تخفیف په ځلور برخو، حکمي شخصیتونه، حقیقي کسانو، ملکیت انتقال او تېلو کې دي.»

د ښاغلی حنفي په وینا: «لومړۍ برخه چې د حکمي شخصیتونه چې شرکتونه، روغتونونو او نور دي. مخکې ترې ۲۰ فیصده مالیه اخیستل کېده، چې اوسمهال ترې ۱۰ سلنه اخیستل کېږي. دا اقدام په بې ساري ډول دی چې پوره کېږي. اسلامي امارت سوداګرو، روغتونونو، پانګوالو او نورو کسان چې مالیه ور کوي، ورته ځانګړې شوې دی ...

۲مخ

هند کې د اسلامي امارت سفارت:

هند او افغانستان یو بل سره ډېرې ژورې تاریخي اړیکې لري



په هند کې د اسلامي امارت د سفارت سرپرست، د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ له وزیر سره په ګډه خبري غونډه کې، د افغانستان او هند ترمنځ سیاسي اړیکې پیاوړې وبللې.

ده زیاته کړې، چې د دواړو هېوادونو اړیکې تاریخي دي او د ده په وینا: دا اړیکې ورځ تر بلې د پراختیا په حال کې دي.

د یاد سفارت سرپرست، نوراحمد نور ویلي: «له هند سره زموږ اړیکې د نن او سبا نه دي؛ بلکې دا تاریخي اړیکې دي. زموږ کلتورونه او دودونه یو بل ته ورته دي. هند او افغانستان یو بل ته ډېر نږدې دي. دا اړیکې د دواړو هېوادونو د خلکو پر ژورو اړیکو ولاړې دي او دا ځانګړنه به همداسې پاتې وي.» په دې خبري غونډه کې، د کرنې ...

۲مخ

اسلامي امارت د قطر پخواني امیر په مړینې خواشیني ښودلې

د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح‌الله مجاهد د قطر پخواني امیر شیخ حمد بن خلیف ال ثاني په مړینې خواشیني ښودلې ده.

ښاغلي مجاهد د قطر د پخواني امیر د مړینې له امله د هغه کورنۍ او ټول قطري ولس ته تسلیت وړاندې کړی دی. په پیغام کې مرحوم ته د الله تعالی له درباره د جنت الفردوس او کورنۍ او خپلوانو ته یې د صبر جمیل او اجر جزیل دعا شوې ده.

د ګرځندوی، مالي او اداري معین:

انلاین ګرځندوی شرکتونه دې خپل فعالیتونه لا منظم کړي

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مالي، اداري او ګرځندوی معین مولوي قدرت‌الله جمال اړونده برخه کې د فعالو شرکتونو له مسؤلینو سره ناسته کې د دوی ستونزې او وړاندیزونه واورېدل. د باختر اطلاعاتي اژانس د خبر له مخې، په دې لیدنه کې د ګرځندوی شرکتونو ...

۲مخ

کابل او بیجینګ په رسنیز ډګر کې همکاري پراخوي

د افغانستان د امارتي او خصوصي رسنیو یوه ګډ پلاوي د بهرنیو چارو وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس حافظ ضیاء احمد تکل په مشرۍ د چین په رسمي بلنه دغه هېواد ته سفر کړی دی.

یاد پلاوي د دې سفر په ترڅ کې د شانګهای، شي‌ان او اورومچي ښارونو له یو شمېر تاریخي، فرهنګي، رسنیزو، صنعتي او سیاحتي مرکزونو لیدنه کړې. دوی همدا راز د چین د بهرنیو چارو وزارت له یو شمېر مسؤلینو سره په کتنو کې د افغانستان او چین ترمنځ د سیاسي، اقتصادي، فرهنګي او په ځانګړي ډول د رسنیزو همکاریو د پراختیا په اړه خبرې وکړې. د افغان پلاوي مشر حافظ ضیاء احمد تکل په یادو کتنو کې ویلي، افغانستان او چین د ښه ګاونډیتوب، متقابل احترام او ګډو ګټو پر بنسټ تاریخي اړیکې لري. نوموړي د دواړو هېوادونو د رسنیو ترمنځ د ګډو پروګرامونو، مسلکي روزنو، د تګ راتګ، رسنیزو ...

۲مخ

سرلیکنه

د مالیاتي اسانتیاوو نوی پړاو؛ د ولس او اقتصاد په ګټه پرېکړه

د یوه مسؤول نظام بریالیتوب یوازې د عوایدو په راټولولو کې نه وي، بلکې په دې کې هم وي چې د خلکو ژوند اسانه کړي، د سوداګرۍ لپاره مناسب چاپېریال برابر کړي او د اقتصادي فعالیتونو د پراختیا زمینه برابره کړي. هغه دولت چې د خپلو خلکو ستونزې درک کړي او د هغوی د اقتصادي بار د کمولو لپاره عملي ګامونه واخلي، د ولس باور ترلاسه کوي او د هېواد اقتصاد هم پیاوړی کوي. د اسلامي امارت وروستۍ مالیاتي پرېکړه هم د همدې لیدلورې څرګندونه کوي.

اسلامي امارت د مالیاتو په برخه کې تخفیف اعلان کړی دی. د دې پرېکړې له مخې، د حکمي او حقیقي اشخاصو، د ملکیتونو د انتقال او نفتي توکو پر عایداتي مالیاتو لس سلنه تخفیف پلي کېږي. همدارنګه هغه کسان چې کلنی عاید یې تر ۱۲۰ زره افغانیو پورې وي، له مالیې معاف دي. دا پرېکړه د خصوصي سکتور، سوداګرو او زرګونو مالیه ورکوونکو لپاره یوه مهمه اسانتیا بلل کېږي.

الحمدلله، اسلامي امارت تل هڅه کړې چې خپلو هېوادوالو ته اسانتیاوې رامنځته کړي او د خلکو اقتصادي ستونزې راکمې کړي. د مالیاتو په برخه کې دا تخفیف هم د همدې پالیسۍ یوه عملي بېلګه ده. کله چې د سوداګرو او واردوونکو لګښتونه راکم شي، د بازار پر بیو یې هم اغېز څرګندېږي. تمه ده چې د نفتي توکو او ګڼو ارتزاقي موادو په نرخونو کې د پام وړ ارزاني رامنځته شي او عام خلک یې له ګټو برخمن شي. د دې پرېکړې اصلي موخه دا ده چې د خلکو د ژوند لګښتونه راکم شي او د ورځنیو اړتیاوو پوره کول ورته اسانه شي.

دا اقدام د اسلامي امارت د ولس‌پالنې او شفقت څرګندونه هم کوي. کله چې یو نظام د خپلو خلکو د هوساینې لپاره د خپلو عوایدو یوه برخه قرباني کوي او د مالیاتو بار کموي، دا د دې ښکارندویي کوي چې د ولس سوکالي ورته لومړیتوب لري. همدا ډول پرېکړې د خلکو او دولت ترمنځ باور پیاوړی کوي او د ګډ پرمختګ لپاره ښه فضا برابروي.

په وروستیو کلونو کې د افغانستان مالیاتي نظام هم د پام وړ بدلون موندلی دی. پخوا د فساد، بې‌نظمۍ او شخصي سلیقو له امله مالیه ورکوونکي له ګڼو ستونزو سره مخ وو؛ خو اوس د مالیاتو راټولولو بهیر تر ډېره منظم او ډیجیټلي شوی، روڼتیا پکې زیاته شوې او د اسانتیاوو برابرولو ته ځانګړې پاملرنه شوې ده. همدې اصلاحاتو د خصوصي سکټور باور هم زیات کړی او د سوداګریزو فعالیتونو لپاره یې ښه چاپېریال رامنځته کړی دی.

د مالیاتو تخفیف د خصوصي سکټور لپاره هم یو مهم فرصت دی. کله چې د سوداګر لګښت راکم شي، د پانګونې جرئت یې زیاتېږي، کاروبار پراخوي، تولید لوړوي او د نویو کاري فرصتونو د رامنځته کولو توان پیدا کوي. د هېواد اقتصادي وده له همدې ځایه پیلېږي، ځکه قوي خصوصي سکټور د هر پیاوړي اقتصاد اساسي برخه وي.

افغانستان د اقتصادي ځان‌بسیاینې پر لور په ثابتو ګامونو روان دی. د مالیاتي اصلاحاتو دوام، د سوداګرۍ ملاتړ، د پانګونې لپاره د اسانتیاوو برابرول او د خلکو د اقتصادي ستونزو کمول هغه تګلاره ده چې د هېواد اقتصادي راتلونکې به لا پیاوړې کړي. ان‌شاءالله د دغو اصلاحاتو په دوام سره به هم بازارونه لا فعال شي، هم به د خلکو د ژوند لګښتونه راکم شي او هم به افغانستان د پیاوړي، متوازن او پر ځان بسیا اقتصاد پر لور نور هم چټک ګامونه واخلي.

بلخ کې د کورنیو او نړیوالو تولیداتو نندارتون پرانیستل شو

د صنعت ځانګړې اوونۍ په مناسبت، په مزارشریف ښار کې د (مولانا جلال الدین محمد بلخي) درېیم درې ورځنی نندارتون جوړ او د بلخ سیمه ییزو چارواکو او پانګوالو په حضور کې پرانیستل شو.

دغه نندارتون، چې د خصوصي سکتور له لوري د صنعت او سوداګرۍ وزارت سره په همغږۍ جوړ شوی مسؤلین وايي، د کورنیو تولیداتو او له پانګونې څخه د ملاتړ په موخه، د هېواد ...

۲مخ

هند افغان ځوانانو ته زر انلاین تحصیلي بورسونه ورکوي

د هند حکومت د هند د فرهنګي اړیکو شورا (ICCR) له لارې اعلان کړی، چې د ۲۰۲۶-۲۰۲۷ تحصیلي کال لپاره به افغان ځوانانو ته زر انلاین بورسونه ورکړي.

د هند د فرهنګي اړیکو شورا (ICCR) په خپره کړې خبرپاڼه کې ویلي، دغه بورسونه د (e-VidyaBharati (e-VB پروګرام په چوکاټ کې او د i-Learn پورټل له لارې وړاندې کېږي.

غوښتونکي کولای شي د مدیریت، سوداګرۍ، کمپیوټر ساینس، هنرونو او نورو برخو کې د هند په معتبرو پوهنتونونو کې خپلې لوړې زده‌کړې په انلاین ډول ترسره کړي.

د خبرپاڼې له مخې، د ۲۰۲۶ کال د جولای له ۱۵مې نېټې به د افغانستان زرو اتباعو ته دغه انلاین تحصیلي بورسونه ورکړل شي ...

۲مخ

د بهرنیو چارو وزارت د بنګله‌دېش د طبیعي پېښو له قربانیانو سره خواخوږي څرګنده کړه

د بهرنیو چارو وزارت د بنګله دېش په سوېل ختیځو سیمو او پلازمېنه ډاکه کې د سختو بارانونو، ویجاړوونکو سېلابونو او ځمکې ښوېدنې له امله د مرګ ژوبلې او زیانونو په اړه د دغه هېواد له حکومت، خلکو او د قربانیانو له کورنیو سره خپله خواخوږي او تسلیت څرګند کړ.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند عبدالقهار بلخي ټپیانو ته د عاجلې روغتیا هیله کړې او د بې ځایه شویو کورنیو لپاره یې د بېرته عادي ژوند د پیل هیله څرګنده کړې ده.

پنجشېر کې د پانګونې کچه زیاته شوې

د پنجشېر ځايي مسؤلینو خبرورکړی، چې په دې ولایت کې د دوو سوداګرو له لوري ۳۴ میلیونه افغانۍ پانګونه شوې.

د پنجشېر د والي ویاند سیف الدین لټون باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي چې د خالد فرهمند او امیرمحمد په نامه دوه تنو تازه د یاد ولایت په عنابې او شتل ولسوالیو کې د تولید په برخه کې پانګونه کړې ده.

د یاد ولایت د صنعت او سوداګرۍ رئیس مولوي امین الحق ماثوري وايي، د اسلامي امارت د تګلارې له مخې دواړو پانګوالو ته یوه یوه ځمکه چې ټولټال ۶ جریبه کېږي وویشل شوه. تر دې وړاندې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د یوې غونډې پر مهال ویلي و، چې د اسلامي امارت له لوري د پانګوالو ملاتړ په موخه ګڼې اسانتیاوې په نظر کې نیول شوې او مسوولین هڅه کوي، چې پر وخت یې ستونزو ته رسېدنه وکړي.

کاپیسا کې ۷ ټنه تاریخ تېره توکي وسوځول شول

کاپیسا کې د اړوندو ادارو له لوري د یوه کال په موده کې راټول کړل شوي ۷ ټنه خوراکي توکي وسوځول شول. د یاد ولایت د صنعت او سوداګرۍ ریاست مسؤلینو د دې توکو د له منځه وړلو پر مهال له درمل او د خوراکي توکو له پلورونکو غوښتي، چې د خلکو روغتیا په موخه د ورته توکو له پلور څخه لاس واخلي.

د یادونې وړ ده، چې د اسلامي امارت مسؤلینو افغانستان ته پر واردوونکو توکو سربېره په کور دننه په تولو خوراکي او غیر خوراکي توکو د څار هڅې چټکې کړې ځکه په دې سره د خطرناکو ناروغیو کچه را ټیټېږي.

په منځني ختیځ کې روان جنګونه او د نړیوالو اندېښنې

لیکوال سلطان محمود سالمزی

سیاسي تبصره

ځینــې جنګونه نیابتي، اســتخباراتي اوتپل شــوي بڼه لري، چــې د نړۍ د استعماري او اســتکباري طاقتونو له لوري په ځینــو هېوادونو تحمیلېږي. ډېری زبر ځواکونه یې د خپلو اقتصادي موخو لپاره پــه لار اچوي تر څو خپل شــوم هدفونه لاس ته ته راوړي. دغه جنګونــه اکثره د خپلــو نیابتي ډلو او یا هغه هېوادونه چــې په غلامۍ کې راښــکیل وي او خپلو بادارانو په اشاره او حکــم چلېږي، له اوامرو یې سـر غړونه نه شي کولای، د بېلګې په توګه پاکستان چې زموږ ګاونډي اویو اټومي هېواد دی؛ خو له بده مرغه چې خپل واک او اختیار نلري او د خپلو بادارانو د خوشحالولو لپاره یې خپل دیني مراکز د دینــي علما کرامو او طالب العلمانو په وینو ولمبول. په لسګونو د قرانکریم او احادیثو اســتاذان یې په بې رحمانه توګه په شــهادت ورسول، په زرګونو د مدارسو شــاګردان یې په وینو ولړل او حتی ځیني یې لاس تړلي امریکایانو ته وسپارل. د پښتنو او بلوڅو د ځپلو په موخه یې د بلوچستان او پښتونخوا په لسګونو زره بې ګناه بلوڅان او پښتانه په مرمــوز ډول شــهیدان کړل، چې دغه لړۍ لا هم جریــان لري. دا پرله پسې څلور لســیزې زموږ په ګران او محبوب هېواد کې د همدغه اجیر پوځ څرګنده لاس وهنه یې مستندې بېلګې دي. همدارنګه پر ایران او فلســطین د اســرایلي یهودو او امریکا ګډ بریدونه دا روښانوي چې نړیوال استعمارچیان پدې هڅه کې دي چې د خپلو نیابتي او اســتخباراتي جنګونو دغه تسلسل دوامدار وساتي او خپل اهداف ترلاسه کړي. خو په مقابل کې ایران هم نیابتي ډلې لري، د بېلګې په توګه یمن، لبنان، عراق، سوریه او حتی پاکستان کې هم جنګیالي لري چې د ایران لپاره جنګ کوي او همداراز د پنځــو نړیوالو زبر ځواکونو څخه چین او روســیه هم د ایران سره مرسته کوي. ممکن دا جنګ د ایران او اســرایلي یهــودو لپاره بدې پایلــې ولري او دغــه جنګ د منځني ختیځ نورو هېوادونو ته هم وغځېږي، چې پدې سره به د تېلو بیې هم لوړې شي او یو شــمېر عربي هېوادونه به له اقتصادي ستونزو سره مخ شي. که څه هم د عمان او قطر له لوري د جنګ د درولو هڅې رواني دي؛ خو په مطلق ډول نشــو ویلی چې د جنګ دوام او نورو هېوادونو ته د هغې ســرایت به د درېیم نړیوال جنګ لامل شــي؟ خو د دې وړاندوینــه هم ناممکنه ده، چې ووایو نړیوال جنګ نشي کېدای. که له ایران ســره چین او یا هم روسیه او له اسرایلي یهودو سره اروپایي هېوادونه مستقیم په جنګ کې راښکیل شي، نو درېیم نړیوال جنګ یقیني کېدای شي. که دغه جنګ دوام ومومي افغانستان هم بې اغیزې نه پاتي کیږي. هېواد ته د مهاجرینو په راستنېدو کې زیاتوالی راځــي، د تېلو قیمتونــه لوړېږي او په سـوداګریزه راکړه ورکــړه کې کموالی راځي. که څه هم موږ بدیلې لارې لرو او د منځنۍ اســیا له هېوادونو او لارو څخه ګټه اخیستلی شو؛ خو بې اغیزې نه شــو پاتي کېدای. که څه هم د نورو هېوادونو په پرتله به زموږ ســتونزې لږ څه کمې وي؛ خو بیا هم هڅې روانې دي تر څو دغه جنګ پای ومومي، تر څو د نړیوال جنګ او ناورین د رامنځته کېدو مخه ونیول شــي او په ټوله نړۍ کې د امن او سکون فضا رامنځته شي.

د یــو ودان، پر مختللي او سمســور افغانستان په هیله!

دمالیې وزارت له لوري ...

د دوی مالیه د پولیسو، ښوونکو، ښوونیز مرکزونو او ډاکټرانو ته سترو خدمتونو په بدل کې ور کول کېږي. بل د حقیقي کسانو دی، چې مخکې د چا عواید په کلني ډول ۶۰ زره وه، مالیــې به یې معاف وه؛ خو اوســمهال د ۱۲۰ زرو پورې چې په کال کې عاید ولري، ورځیني نه اخیستل کېږي. که چې ۱۲۰ زرو څخه تــر ۱ میلیون او ۲۰۰ زرو پورې عواید ولري، په کال کې ترې لس سلنه مالیه اخیستل کېږي. که د چا عواید له ۱۲ ســوه زرو څخه زیات وي ۱۵ سلنه مالیه به ور کوي.»

د ده په وینا: «د اموالو انتقــال منقول او غیر منقول مالیه چې مخکې ۱ سلنه وه، له نن څخه به وروسته ترې ۵،۰ سلنه واخیستل شي. همداشان د ګازو او تېلو شرکتونه چې ذخیرې لري، د هر ټن په سر به ۵۰ افغانۍ اخیستل کېږي. څوک چې لومړی لاس ګاز او تېل پلوري په کلني ډول به ۱۰۰ زره افغانۍ، دویم لاس ۷۰ زره افغانۍ، درېیم لاس ۵۰ زره افغانۍ او څلــورم ۲۵ زره افغانۍ په کلني ډول ثابته مالیه ور کوي. کوم کســان چې په ټن تېــل اخلي او په کیلو یې خرڅوي، په فی ټن ۸۰ افغانۍ به ثابته مالیه ور کوي.»

د نومــوړي په وینا: «د مالیــه راټولونکو څخه هیله کېږي، چې د اســلامي اصولو په چوکاټ کې د خلکو ســره رویه وکړي. اسلامي امارت سوداګرو، دوکاندارانو او صنعت کارانو ځانګړې پاملرنه کړې او د دوی لپاره د هر ډول اســانتیاوو په راوړلو کې لا ډېره هڅه کوي.»

په ورته مهال د یــاد وزارت وزیر، ملا محمد ناصر اخوند' وویل: «د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی له لوري د شفقت له مخې او د مالیې وزارت په هڅــو هېوادوالو ته په مالیاتــو کې کې تخفیف ور کړل شــوی دی چې له امله بــه یې هېوادوالو ته آسانتیاوې رامنځته شــي او دوی وکولای شي چې خپل مالیات پر وخت تادیه کړي. دا یوازې سهولت نه دی، بلکې پانګوال تشــویق کېږي، تولیدات او صــادرات وده کوي او نوی کاري فرصتونو ته زمینه برابروي.»

د نومورړي په وینا: «د مالیې وزارت د مالیې ټولونې ترڅنګ اغېزمنو مالي ســرچینو او اقتصادي ثبات ســاتلی، په مالي سیاستونو یې تمرکز ساتلی تر څو د اقتصادي پایښــت ته زمینه برابره شي او د پانګې د جذب سبب وګرځي. همداشان د دې ډول ناستو سره د دولت او خصوصي سکټور ترمنځ د همغږۍ اړین فرصتونه برابرېږي، اقتصاد ښه کېږي، پانګوال تشــویق کېږي او عادلانه مالیاتي سیســتم پیاوړی کېږي.»

په ورته مهال د چارو اداري لوی رئیس' شــېخ انور الحق انــور' وویل: «د مالیاتو پــه ور کړې کې بې ســارې ګام اخیستل کېږي چې د هېواد د پرمختګ سبب به وګرځي. د هېواد په کچه اقتصادي جوړښت کې وکړي، پــه ځانګړي ډول پانګوال او ســوداګر صنعتکارانو رول لري چې دولت ورته امنیت، زمینه برابرول او نورو برخو کې د آسانتیاووې راوستلو دنده پر غاړه لري.»

د شــاغلی انور په وینــا: «مالیې ور کــړه د دولت بودیجې د زیاتوالي لامل کېږي. اسلامي امارت دې برخې ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، دولت او ولسونه مکلفیتونه لري چې پــه پوره روڼتیا مالیه ور کړي او دولت یې په شــفافه ډول راټوله کړي چې په همدې موخه یې سیستم رامنځته کړی دی. په نړیواله کچه په غوره توګه جوړ شوی چې مالیې ور کوونکو لپاره چارې آسانه کوي، دولت عوایدو د زیاتوالي څارنه او دقیق معلومات برابروي، دومداره پرمختګ وړتیا لري، اړتیا ســره نوي معلومات زیاتولو شــي، نورو سیستمونو سره د وصل کېدلو وړتیا لري. همداشان د مالیاتي نښان په برخه کې پرمختګ دی چې د ځان بســیایني او ملي امنیت په برخو کې پراخ سهولتونه را منځته کوي.»

د صنعت او ســوداګرۍ وزیــر' نورالدین عزیزي' وویــل: «دا درېیم ځــل دی چــې د عالیقدر امیر المومنین حفظه اللــه تعالی له لوري په مالیاتو کې ځانګړی تخفیف ور کول کېږي چې د ملت لپاره ډېر آسانه شو. کله چې تخفیف کم شي، ور سره قیمتونه راټیټېږي. د مالیاتو تخفیف د کورني ســکټور څخه ملاتړ دی چې پانګوالو لپاره اغېزمن دی. که چېرته په مســاوي ډول سره مالیه وټاکل شي، صنعت وده کوي او پانګونه ډېرېږي. د ټولو پانګوالو، صنعتکارانو او نورو څخه هیله کېږي چې د دې تخفیف په نظر کې نیولو ســره روڼتیا په نظر کې ونیسي او د قانوني لارو مخکې لاړ شي. وروستیو کلونو کې د هېواد د دننه پانګوال د پانګې لپاره پوره باور ترلاسه کړی او هڅه کوي چې ترې ګټه پورته کړي.»

د عزیزي په وینا: «پانګوني فکري مســیر دی چې دولت په داســې ډول مالیه کمــوي، باور زیاتېږي، وېره ختمېــږي، کارخانې زیاتېږي، پانګې ډېرېږي، چې په دې ســره صنعتي بدلــون رامنځته کېږي، د همدې صنعت له لارې تولیدات زیاتېږي، نرخونه کمېږي، کیفیت لوړېږي او د کارخونو د ډېر فعالیت په ګټو تمامېږي. هره نوې فابریکه د ودې په مانا ده، چې تولیداتو سره د هېواد له اقتصاد څخه بشپړ ملاتړ دی.»

د مالیې وزارت د ګمرکونو او عوایدو مرستیال' مفتي عبدالمتین ســعید' وویل: «صنعت او سوداګرۍ یو د پسې نغښــتي دي چې صنعت نه وي، سوداګرۍ بې ګټې ده. اســلامي امارت په راتګ ســره په ډېرو برخو کې پرمختګ رامنځته شوی، چې تېر کال هم د تجارت او صنعت په برخه کې د ســتونزو سره تر لس سلنه پرمختګ رامنځته شوی دی. له دې څخه ښــکاري چې پرمختګ شــتون لري او صنعت او سوداګرۍ برخه کې سهولتونو رامنځته شوي دي.»

زیارمل هوتک

له هند سره اړیکې ...

اوبو لګولو او مالــدارۍ وزیر، عطاءالله عمري، د افغانستان او هند ترمنځ د کرنیزو همکاریو پراختیا مهمه وبلله.

ده د خپلو خبرو په یــوه بله برخه کې، نوي ډیلي ته د خپل ســفر پر مهال د هندي چارواکو هرکلی، د افغانســتان او هند ترمنځ د اړیکو د پیاوړتیا او د دوه اړخیزو همکاریو د پراختیا لپاره یو مثبت ګام وباله.

ده وویل: «د دغه هېواد تود هرکلی او د افغانستان له خلکو څخه یې ملاتړ زموږ لپاره هیلهبښونکی دی او دا ښیي، چې زموږ هغه هېواد چې پنځه څلوېښت کاله یې جګړه تېره کړې، کولای شي بېرته پر خپلو پښو ودرېږي.»

دا په داســې حال کې ده چې د جمعې په ورځ هم په نوي ډیلي کې د افغانستان او هند د بهرنیو چارو وزارتونو د ګډې کارې ډلې څلورمه غونډه ترســره شــوه، چې د دواړو هېوادونو ترمنــځ د دوه اړخیزو همکاریو او تعاملاتو په اړه په کې خبرې شوي دي.

کابل او بیجینګ په رسنیز ...

همکاریو او مستقیمو اړیکو پر پراختیا ټینګار کړی دی.

پــه ورته مهال چینایــي لوري هم رســنۍ د دواړو هېوادونو د ولسونو ترمنځ د متقابل پوهاوي، دوستۍ او باور د پیاوړتیا مهم پُل بللی او د افغان او چینایي خبریالانو د متقابلو ســفرونو او رسنیزو همکاریو د پراختیا هرکلی یې کړی دی.

د یادونــې وړ ده، چې تر دې وړاندې هم یو شــمېر افغان خبریالانو او د رسنیو استازو چین ته سفر کړی و.

انلاین ګرځندوی شرکتونه ...

مســؤلینو د خپل فعالیت اړوند ستونزې او ننګونې مطرح کړې او د حل غوښتنه یې وکړه.

ښاغلي جمال دې ناسته کې د ګرځندوی شرکتونو د ستونزو د حل او همکارۍ ډاډ ورکړ.

هغــه همدارنګه د انلاین ګرځندوی شــرکتونو کې د لا نظم پــر ټینګېدو ټینګار وکــړ، څو پر مټ یې ګرځندویانو ته اغېزمن خدمتونه وړاندې شي.

د چارو پوهان باور لري، چې د ګرځندوی ســکټور د هېــواد د اقتصادي ودې، د کارموندنې د فرصتونو د زیاتوالــي او د افغانســتان د تاریخي او فرهنګي ارزښتونو د معرفي کولو لپاره مهم رول لري. د دوی په اند، که د ګرځندوی شــرکتونو ستونزې هوارې، د خدماتــو کیفیت لوړ او د انلایــن خدمتونو بهیر لا منظم شــي، نو هېــواد ته به د کورنیــو او بهرنیو ګرځندویانو د راتګ زمینه نوره هم برابره شي.

همدارنګه، د ګرځندوی صنعت پراختیا کولی شي د هوټلونو، ترانسپورټ، لاسي صنایعو او نورو اړوندو سوداګریزو فعالیتونو د ودې لامل شي، چې په پایله کې به د هېــواد اقتصاد پیاوړی، عواید به زیات او د افغانستان د ګرځندوی ظرفیتونه به په نړیواله کچه لا ښه معرفي شي.

بلخ کې د کورنیو او ...

لــه بېلابېلــو ولایتونــو لســګونه صنعتکارانو او تولیدوونکو پــه ۱۷۰ غرفو کې خپل بېلابېل کورني تولیدات ننداړې ته وړاندې کړي دي.

د یاد نندارتون جوړوونکی، مســیح محمدي وایي: په دغه نندارتون کې لاســي صنایع، لبنیات، غالۍ، بېلابېل ډولــه وچه مېوه او خوراکي توکي ننداړې ته وړاندې شوي دي.

« په مزارشــریف ښــار کې د مولانــا جلال الدین محمد بلخي درېیم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شــو، چې په دغه درې ورځنــي نندارتون کې ۱۷۰ غرفې دي. په دې نندارتون کې ۱۵۰ غرفې د نارینه سوداګرو او ۲۰ غرفې د ښځو دي. په دې نندارتون کې وچه مېوه، غالۍ، جامې، ټغر، خوراکي توکي او نور بېلابېل ډوله توکي په غرفو کې ننداړې ته وړاندې شوي دي.»

د یاد نندارتون د پرانیستې په مراسمو کې د بلخ ځایي مسؤلینو وویل: د داسې نندارتونونو جوړول د کورنیو تولیداتــو د ودې، د پانګونې د هڅونــې او د افغان محصولاتو د بازار موندنې لپاره اغېزمن تمامېږي.

دوی د کورنیــو تولیداتو پر ملاتړ ټینګار وکړ او له ګاونډیو هېوادونو یې وغوښتل، چې د افغان تولیداتو لپاره له هېواده بهر د بازار موندنې په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي، څو کورني تولیدات نړیوالو بازارونو ته هم لار ومومي.

د بلخ مرستیال والي، مولوي نورالهادي ابو ادریس یې پــه اړه وایي: « تر بل هر وخــت موږ اوس دې تــه اړتیا لرو، چې کورنیو تولیداتو تــه وده ورکړو او ملاتړ یې وکړو. موږ د سیمهییزو مسؤلینو په توګه د ســوداګرو ترڅنګ ولاړ یو او د ستونزو د حل برخه کې د ملاتړ ډاډ ورکوو. اوس په هېواد کې د پانګونې لپاره ښــه زمینه برابره ده او له سوداګرو غواړو، چې هېواد ته راستانه شي او په کور دننه پانګونه وکړي.»

بلخــوا، یو شــمېر صنعتــکاران وایــي، د دا ډول نندارتونونو جوړېدل، د دوی د تولیداتو د پېژندنې، د پېرېدونکو د جلب او د سوداګریزو اړیکو د پراختیا لپاره مهم فرصت برابروي.

دوی له حکومته غواړي، چې پــه بهرنیو هېوادونو کې هم د افغان تولیداتــو د نندارتونونو زمینه برابره کړي، ترڅــو کورني محصولات نړیوالو بازارونو ته ور وپېژندل شي.

د یادونې وړ ده، چې پــه دغه نندارتون کې د نارینه وو ترڅنګ، ښځینه متشبثو هم ګډون کړی او ټاکل شوې، چې درې ورځې به دوام وکړي.

هند افغان ځوانانو ته ...

په خبرپاڼه کې راغلي، چې د غوښتنلیکونو سپارلو وروستۍ نېټه د روان کال د جولای ۲۴مه ده.

د خبرپاڼــې له مخې، دغه بورســونه د هند په ټاکل شــویو پوهنتونونو او لــوړو زدهکړو مؤسســو کې د لیســانس او ماســټرۍ د انلاین پروګرامونو لپاره ځانګړي شوي دي.

د دغه پروګرام د تنظیموونکو په وینا: په دغو بورسونو کې د زدهکړو بشــپړ لګښــت، د نوملیکنې فیس، د ازموینو لګښت او د فراغت سند د صادرېدو لګښت شــامل دي. همدارنګه محصلین به په انلاین ډول درسي ســرچینو، درســي ویډیوګانو او ازموینو ته لاسرسی ولري.

د ۱۴۰۵ کال د عمومي کانکور ...

د ۱۴۰۵ کال عمومي کانکور عمومي اول نمره راشد خان او د دیني مدرسو عمومي اول نمره عبدالمجید هم په خپلو خبرو کې؛ د کانکــور ازموینې بهیر د روڼتیا او د هغوی د ســتایلو په پار د اسلامي امارت او د ازموینــو ملي ادارې له مشــرتابه څخه د مننې ترڅنګ؛ ژمنه وکړه چې خپــل هېواد او خلکو ته د خدمت په موخه به خپلو زده کړو ته دوام ورکړي.

د یادونې وړ ده، چې د ۱۴۰۵ کال د عمومي کانکور او دیني مدرســو د ازموینو ۱۰ مخکښو بریالیو زده کوونکو ته د مسؤلینو له لوري ستاینلیکونه او نغدي ډالۍ هم ورکړل شوې.

خوست کې د دوو ...

ولسوالۍ د بابرک تانې په سیمه کې د احمدي جامع جومات د بیارغونې چارې هم د ۷ میلیونه ۷۳۶ زره ۵۹۰ افغانیو په لګښت پیل شوې دي.

د یادونې وړ ده، چې د دغو پروژو په بشــپړېدو سره به د سیمې اوسېدونکو ته د عبادت لپاره مناسب او معیاري چاپېریال برابر شي.

سږ کال په افغانستان کې ...

د څهباندې ۱۱۶ زره هکتــاره، هرات د نږدې ۱۱۳ زره هکتاره، ســرپل د څهباندې ۸۶ زره هکتاره او بادغیس د څهباندې ۸۵ زره هکتاره للمي کښــت سره هغه ولایتونو دي چې تر نورو ډېر للمي کښت لري.

د احصایــې او معلوماتو ملــي ادارې لیکلي چې همدارنګــه، د ۱۴۰۴ کال په پرتله په اوبیزو کرنیزو ځمکو کې تر ټولو ډېر زیاتوالــی په هرات، غزني، زابل، فراه او کندهار ولایتونو کې ثبت شــوی دی. په ورته وخــت کې، په للمي کښــتونو کې تر ټولو ډېر زیاتوالی په تخار، سرپل، جوزجان او بدخشان ولایتونو کې لیدل کېږي.

د یادونې وړ ده چې د احصایې او معلوماتو عمومي اداره د ریموټ سنســنګ ټکنالوژۍ، ســپوږمکیزو انځورونو او جغرافیایي معلوماتو سېستم (GIS)) په کارولو سره د هېواد تر کښت لاندې سیمې په منظم ډول تحلیل او ارزوي او د کرنیزو پالیســۍ او پلان جوړونــې لپاره اړوند ارقــام او معلومات وخت پر وخت خپروي.

غزني ښار کې د ملکي ...

پراختیا به د ښار ترافیکي ستونزې راکمې او د خلکو ورځنۍ تګ راتګ به اسانه کړي.

د یادې پروژې پلېکوونکي شــرکت مسؤل بختي جان مراد وایي، چې شــرکت یې ژمن دی پروژه د قرارداد له شــرایطو او تخنیکي معیارونو سره سم، د پنځو میاشتو په موده کې بشپړه او ګټې اخیستنې ته وسپاري.

د یادونې ده، د غزني د ملکي روغتون ســړک د ښار لــه مهمو او بوختــو لارو ګڼل کېږي؛ هــره ورځ د غزني ښار او ولســوالیو ترڅنګ د پکتیا، پکتیکا او میدانوردګــو ولایتونو ســلګونه ناروغان، د هغوی پایوازان او وسایط له همدې لارې تګ راتګ کوي؛ خو د دغه سړک د تنګوالي او ترافیکي ګڼېګوڼې له امله خلک له اوږدې مودې راهیسې شکایتونه لري.

+++++++++

له ایران او پاکستانه ...

او عامه پوهاوي لاوي له لوري د دوی د ثبت، لېږد، مالي مرســتو، لنډ مهاله مېشــتېدنې او همدرانکه د هېواد، اســلامي نظام، مهاجــرت، صبر او زغم، ښــوونې او روزنې په اړه ګټور پوهاوی ورکړل شوی دی او ټولټال ورته ۶۰۸ سیمکارتونه هم وېشل شوي دي.

ویتنام کې د یوې کښتۍ ...

په یوه اعلامیې کې ویلي، چې د ژغورنې عملیات لا هــم روان دي او د قربانیانــو له کورنیو ســره د همغــږۍ لپاره په هانوی او هوشــيمین ښــار کې ځانګړې د رسېدنې خونې جوړې شوې دي.

«فو کوک» چې د تایلنډ په خلیج کې موقعیت لري، د ویتنام له مشهورو ســاحلي سیاحتي سیمو ګڼل کېږي.

تېر کال هم د «هــا لونګ» په خلیج کې د توپان له امله د یوې سیلانیزې کښتۍ چپه کېدو پېښه کې ۳۹ کسان مړه شوي وو.

جرمني کې یو ډاکټر ...

درې ناروغان وژلي وو. همدارنګه ویل کېږي، چې نوموړي په ځینو مواردو کې د خپلو جرمونو د پټولو او د شــواهدو د له منځه وړلو پــه موخه د ناروغانو کورونــو ته هــم اور اچولی و، څو د پېښو اصلي لاملونه پټ پاتې شي.

جرمني چارواکــي وایي، اوس مهــال د ۷۶ نورو مشــکوکو مړینو په تړاو هم پراخــې څېړنې روانې دي، ځکه شــک موجود دی چې ښایي نوموړی په دغو پېښــو کې هم لاس ولري. د عدلي بنسټونو په وینا، که د نوموړي ښــکېلتیا په دغو قضیو کې هم ثابته شــي، نو دا به د جرمني په معاصر تاریخ کې د زنځیري وژنو له تر ټولو ســترو او جنجالي قضیو څخه یوه وبلل شــي. چارواکو ټینګار کړی، چې د قضیــې ټول اړخونه په دقت څېړل کېږي او تمه ده د تحقیقاتو له بشپړېدو وروسته به د تورنو جرمونو په اړه وروستۍ پرېکړه د محکمې له لوري اعلان شي.

افغان اعلانات

اطلاعیه عام تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از احکام قانون عقود و طرزالعمل تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین در نظر دارد، پروژه تهیه و تدارک(۲۴) قلم مواد غذای مورد ضرورت مرکز حمایوی معلولین و ورثه شهداء بابت سال مالی ۱۴۰۵، تحت شماره تشخیصیه MOMDA/1405/NCB/G-1242 را به شرکت خدمات لوژستیکی احمد راشد سخی زاده دارنده جواز نمبر(۵۱۱۳۵) محل بازار مراد خواجه، حصه دوم کوهستان، کاپیسا به قیمت مجموعی حداقلمبلغ (۶۹۹,۶۴۶) ششصد و چهل و شش هزار و ششصد و نود و نه افغانی و حداکثر مبلغ(۶۶۶, ۵۸۱،۱) ششصد و شصت و شش هزار و پنجصد و هشتاد و یک اعشاریه یک افغانیاعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی پنج روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین واقع {سرک عمومی میدان هوائی کابل، ایستگاه قلعه خیاط} وفق احکام طرزالعمل تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اطلاعیه عام تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تأسی از احکام قانون عقود و طرزالعمل تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین در نظر دارد، پروژه تهیه و تدارک(۲) نوع تیل دیزل و پترول مورد ضرورت وسایط نقلیه مرکز وزارت امور شهداء و معلولین بابت سال مالی ۱۴۰۵، تحت شماره تشخیصیه MOMDA/1405/NCB/G-1246 را به شرکت دولتی نفت و گاز افغانستان دارنده جواز نمبر(۷۹۹۵۵) محل اصلی سرکوتل خیرخانه، ریاست نفت و گاز ناحیه ۱۷، مرکز کابل، کابل به قیمت مجموعی حداقلمبلغ (۲,۹۸۳,۰۰۰) دو میلیون و نه صد و هشتاد و سه هزار افغانی و حداکثر مبلغ(۳,۱۹۰,۰۰۰) سه میلیون و یکصد و نود هزار افغانیاعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر این اعلان الی پنج روز تقویمی طور کتبی توأم با دلایل آن به آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین واقع {سرک عمومی میدان هوائی کابل، ایستگاه قلعه خیاط} وفق احکام طرزالعمل تدارکات ارائه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

اعلان تدارکات

آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می‌نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه تهیه و تدارک(۲۹) قلم وسایل تکنالوژی معلوماتی و رنگباب مورد ضرورت ماشین های چاپ مرکز وزارت امور شهداء و معلولین بابت سال مالی ۱۴۰۵، تحت شماره تشخیصیه MOMDA/1405/NCB/G-1244 اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوطه را به طور رایگان در حافظه یا فلش دیسک از آمریت تدارکات وزارت امور شهداء و معلولین و یا وبسایت ریاست تدارکات ملی (https://tenders.ageops.af/prs/bid-opportunities-notices) بدست آورده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون عقود و طرزالعمل تدارکات طورسربسته ازتاریخ نشراعلان الی{روز شنبه مورخ ۱۴۰۵/۰۵/۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر }به شعبه جلسه آفر گشایی آمریت تدارکات، منزل پنجم، تعمیر وزارت امور شهداء و معلولین واقع ایستگاه قلعه خیاط سرک میدان هوائی، ارائه نمایند، آفرهای نا وقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی‌باشد.

تضمین آفر بصورت {قابل تطبیق نیست} و جلسه آفرگشایی هم زمان با تاریخ تسلیمی آفرها روز{شنبه مورخ ۱۴۰۵/۰۵/۰۳ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر } در شعبه جلسه آفرگشایی آمریت تدارکات، منزل پنجم ، تعمیر وزارت امور شهداء و معلولین واقع ایستگاه قلعه خیاط سرک میدان هوایی کابل، تدویر می‌گردد.

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

موضوع: نشر اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد پروژه تدارک روغنیات مورد ضرورت وسایط!

بدینوسیله به تأسی از اصول تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ۱.۱.۱ در نظر دارد، قرارداد پروژه تدارک روغنیات مورد ضرورت وسایط را به شرکت محترم خدمات لوژستیکی و تجارتی بلال عیسی زاده دارنده جواز نمبر (۷۴۵۲۲) را به قیمت مجموعی مبلغ (۲,۷۶۱,۲۰۰) دو میلیون و هفت صدو شصت و یک هزارو دو صد افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی پنج روز کاری طورکتبی توأم با دلایل آن به مقام محترم لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین واحکام ۱.۱.۱ واقع شهر نو وفق اصول تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد .

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

موضوع: نشر اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد پروژه تدارک دو نوع تیل (دیزل و پطرول) !

بدینوسیله به تأسی اصول تدارکات به اطلاع عموم رسانیده میشود، لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین و احکام ۱.۱.۱ در نظر دارد، قرارداد پروژه تدارک دو نوع تیل (دیزل و پطرول) را به شرکت محترم اماراتی نفت و گاز افغانستان دارنده جواز نمبر (۷۹۹۵۵) را به قیمت ثابت مجموعی مبلغ (۱۳,۵۰۰,۰۰۰) سیزده میلیون و پنج صد هزار افغانی اعطاء نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی پنج روز کاری طور کتبی توأم با دلایل آن به مقام محترم لوی ریاست نظارت و تعقیب فرامین واحکام ۱.۱.۱ واقع شهر نو وفق اصول تدارکات ارایه نمایند.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد .

اطلاعیه محکمه

حسب هدایت قرار قضایی شماره ۲۱ مورخ ۱۴۰۰/۱/۳۱ ریاست محترم محکمه دیوان رسیدگی به قضایای مالیاتی وبانکی ولایت کابل هییات محترم تطبیق حکم یک دربند حویلی به مساحت مجموعی ۴۸۴ مترمربه مندرج قباله شرعی شماره ۸۰۵ بر ۸۲ مورخ۱۳۶۹/۷/۲ ملکیت محمد عارف فرزند محمد عظیم واقع سرک پانزدهم وزیر محمد اکبر خان که در بدل قرضه تحت تضمین بانک بین المللی افغانستان قرار دارد را از طریق داوطلبی و مزایده بفروش میرساند افراد حقیقی وحکمی که خواهان خریداری جایداد ذکر شده فوق باشند میتوانند درخواستی خویش را الی ده یوم بعد از نشر این اعلان به ریاست محترم حقوق ولایت کابل ویاهم دفتر مرکزی بانک بین المللی افغانستان واقع سرک میدان هوایی کابل بی بی مهرو سپرده وشرطنامه را اخذ نمایند. ۳۴۶۳

اطلاعیه انتقال دفتر رهنمای معلات

دفتر رهنمای معاملات عبدالمقیم بسمل به اسم عبدالمقیم فرزند بسم الله ولدیت خانگل واقع کلوله پشته کوچه اول ناحیه ۴ موقعیت دارد ومیخواهد به ساحه شهرک شاروالی بگرامی ناحیه ۲۲ شاروالی کابل نقل مکان نماید مراتب فوق به آگاهی شما رسانیده شد. ۳۴۶۷

اطلاعیه

اسم شرکت صرافی :سادات

شماره جواز: DAB/I- 0099

شماره دوکان وموقعیت: ۱۸۰ منزل دوم سرای شهزاده ولایت کابل

شرکت فوق الذکر طی درخواستی مورخ ۱۴۰۵/۴/۱۳ آقای سید احمد فتاح احمد فرزند سید احمدالله میخواهد که مقدار٪ ۲۰ سهم استحقاقی خویش را به سهمدار جدید آقای سید احمد واجد احمد فرزند سید احمد الله حمید دارای تذکره شماره ۶۷۰۳۶- ۱۰۰۲- ۱۳۹۹ واگذار نمایند. ۳۴۷۱

اطلاعیه داوطلبی

اعلان پروژه تهیه و تدارک چهار پایه اینورتر باظرفیت ۵/۶ کیلوات و دو مجموعه باطری لیتیمی ۱۵ کیلوات)

میوند بانک در نظر دارد پروژه تهیه و تدارک چهار پایه انورتر باظرفیت ۵/۶ کیلوات و دو مجموعه باطری لیتیمی ۱۵ کیلوات را از طریق داوطلبی آزاد به اعلان بسپارد.

بدین وسیله از تمام شرکت های واجد شرایط که دارای تجربه کافی و توانایی تخنیکی لازم باشند دعوت بعمل می آید تا جهت اشتراک در این داوطلبی بیشنهاد (RFP) را مطابق شرایط ذیل دریافت نمایند:

عنوان پروژه: اعلان پروژه تهیه و تدارك چهار پایه اینورتر باظرفیت ۵/۶ کیلوات و دو مجموعه باطری لیتیمی ۱۵ کیلوات

نوع داوطلبی : داوطلبی آزاد

تاریخ اخذ اسناد: دریافت RFP از ۱۴۰۵/۰۴/۱۶ الی ۱۴۰۵/۰۴/۲۳ محل اخذ اسناد: دفتر مرکزی میوند بانك آدرس:

شهر نو ،طره باز خان، کابل، افغانستان۳۵۳۶

اعلان به اجاره دهی موازی ۲ جریب زمین ساحه پارک وسایط

شرکت ترانزیتی بار چالانی بین المللی برادران زمان فیاض طی ورقه درخواستی خویش حاضر است تا مساحت دوجریب زمین ساحه پارک وسایط ملکیت شرکت اماراتی سیلوی مرکز را ماهوار به مبلغ ۵۵۶۰۰ افغانی برای مدت سه سال به کرایه بگیرد.

اشخاص ،موسسات، وسکتورهای خصوصی که خواهش گرفتن آن را بالاتر ازمبلغ متذکره داشته باشند در خواست های خویش را از نشر اعلان به مدت ۲۱ روز به مدیریت تهیه و تدارکات شرکت اماراتی سیلوی مرکز بسپارند.شرطنامه را اخذ وخودشان به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱۲ ش در جلسه داوطلبی مزایده حاضر گردند تضمین مبلغ ۱۶۷۰۰۰ افغانی نقدا اخذ میگردد. ۳۴۸۴

اطلاعیه اجاره دهی

مدیریت عمومی انکشاف زمین ،آمریت تخنیکی زمینداری ریاست اراضی ولایت کابل در نظر دارد تا زمین اماراتی ذیل را از طریق داوطلبی به اجاره دهد.

بدین وسیله از تمامی داوطلبان وشرکت های محترم که دارای تجربه مرتبط در امورتجارتی می باشند تقاضا به عمل می آید تا الی ۱۰ روز از تاریخ نشر این اعلان در خواست های خویش را به ریاست اراضی کابل تسلیم نمایند.

موضوع عبارت است از:

موازی ۷/۴ هفت عشاریه چهار جریب زمین اماراتی واقع ساحه خواجه رواش ولسوالی ده سبز دارای کوردینات نمبر ۵۲۲۳۸۳:x y:۳۸۲۳۹۴۲به منظور فعالیت (احداث فابریکه تولیدی رنگ های ساختمانی وصنعتی که سالانه فی جریب به مبلغ ۹۰۰۰۰ نود هزار افغانی مطابق احکام قانون اجاره دهی زمین های اماراتی، به اشخاص حقیقی و حکمی به اجاره داده می شود.

نوت: فورمه های مربوط به اجاره دهی همراه با شرطنامه از آمریت تخنیکی زمینداری این ریاست قابل دریافت می باشد. ۳۴۹۲

د ترون د اعطاء د پریکړي خبرتیا

تدارکاتو د اصولو له مخې تولو هیوادوالو ته خبر ورکول کیږي چې د ۱.۱.۱ ستره محکمه په نظر کې لري د ۱۴۰۵هـ ش مالي کال لپاره د احمد سلطان مظهري لوجستیکي شرکت سره چې د جواز شمیره یې(۹۷۶۰۴) ده او مرکزي دفتر یې د کندهار ولایت مرکز په هرات بازار کښې کې موقعیت لري،د (۴۴۵۹۹۹۳)څلور میلیونه څلور سوه نهه پنځوس زره او نهه سوه دری نوي افغانیو په قیمت سره د کابل ولایت مرافعه محکمې لپاره د (۴)قلمه خوراکي توکو د تدارک قرارداد وکړي.

هر دول حکمي او حقیقي شخصیتونه چې پدې اړه نیوکه لري د تدارکاتو د اصولو له مخې کولاي شي په لیکلي دول د دلایلو په لرلو سره خپلې نیوکې د دې اعلان د خپریدو له نیټې څخه تر پنځو(۵) تقویمي ورځو پورې د عامي روغتیا څلور لارې ته څیرمه د ستري محکمې د مالي او اداري عمومي ریاست ارونده د تدارکاتو آمریت ته وراندې کړي.

دا خبرتیا د قرارداد د ترلو په معنی نه ده د پورته ذکر شوې نیټې تر پوره کیدو او نورو قانوني مرحلو تر سرته رسولو پورې د قرارداد عقد نه

ترل کیږي.۳۵۲۸

موضوع (اعلان داوطلبی (۹) باب دواخانه‌های شرکت اماراتی فارمسی ابن سینا که در موقعیت های مختلف کشور قرار دارند)

«شرکت اماراتی فارمسی ابن سینا به تعداد (۹) باب دواخانه‌های ذیل خویش را که در موقعیت‌های مختلف کشور قرار دارند.

۱- دواخانه اماراتی شماره (۲) فراه، واقع شفاخانه ولایتی؛

۲- دواخانه اماراتی شماره (۳) فراه، ولسوالی قلعه کاه؛

۳- دواخانه اماراتی شماره (۱) سمنگان، رستهٔ قیشلاق؛

٤- دواخانه اماراتی شماره (۲) سمنگان، چوک عمومی؛

٥- دواخانه اماراتی شماره (۳) سمنگان، رستهٔ گل‌فروشی؛

٦- دواخانه اماراتی شماره (٤) ننگرهار، واقع شفاخانه گرده؛

۷- دواخانه اماراتی شماره (۸) ننگرهار، واقع شفاخانه ولسوالی غنی خیل؛

۸- دواخانه اماراتی شماره (۹) ننگرهار، واقع شفاخانه ولسوالی کامه؛

۹- دواخانه اماراتی شماره (۳) هرات، واقع کلینیک ولسوالی شیدایی.

میخواهد در روشنی قوانین نافذه کشور طور آفر سربسته به اجاره بسپارد.

بناً از تمام اشخاص و افراد حقیقی، حکمی و شرکت‌های سهامی که خواهش اجاره گرفتن دواخانه‌های اماراتی را داشته باشند، تقاضا میگردد تا شرطنامه متذکره را از آمریت فروشات ریاست تجارتی شرکت اماراتی فارمسی ابن سینا در بدل ۳۰۰۰ افغانی پول غیرقابل بازگشت دریافت نموده، جلسه آفرگشایی دواخانه‌ها (۱۰) یوم بعد از نشر اخبار بروز (معینه) ساعت ۹:۰۰ بجه قبل از ظهر در مقر شرکت اماراتی فارمسی ابن سینا برگزار میگردد. تضمین طبق مقررات و موادات شرطنامه اخذ میگردد. ۳۴۴۰

اعلان مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم محمد ولی سلطانی ولد محمد اخلاص مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۴۸۹

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه ۵ واقع قلعه ناظر به اسم سردار خان ولد عبدالغفار مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۵۰۲

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز تشبث شرکت لوژستیکی بریال اوریا دارای نمبر ۷۱۷۲ به اسم عبدالمالک رویاخیل ولد محمد اسماعیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط است. ۳۴۹۶

اعلان مفقودی

یک جلد ترجمه نکاح خط شرعی دارای نمبر ۱۱۲۱/۸۳۲ مورخ ۲۱/ ۲/ ۱۴۴۶ مرتبه محکمه وثایق حوزه ۵ به اسم احمد نثار ولد خالد امیری ولدیت میر حسن وزوجین به اسم سعدیه بنت توریالی ولدیت زلمی مفقود گردیده از اعتبار ساقط است. ۳۲۶۲

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز تشبث دولت ولد عبدالرشید تاجر انفرادی نمبر ۳۰۷۵۰ به مفقود گردیده از اعتبار ساقط است. ۳۴۶۹

اعلان مفقودی

یک قطعه سند گمرکی موتر تیلر رنگ آبی از شرکت کریم خان لمتید دارای نمبر شاسی ۴۶۳۸ تحت نمبر ۶۴۲۵۱ مفقود گردیده از اعتبا ر ساقط است. ۳۴۸۵

Hewad Daily

يو ډالر	٦٥.٦٠ اف	
يو يورو	٧٤.٦٠ اف	
يو پونډ	٨٥.٤٠ اف	
يو درهم	١٧.٨٦ اف	
زر ريال	٠٣٧ اف	
زر کلدارې	٢٢٩ اف	
زر کلدارې	٧٤٦ اف	

اسعارو بيعه

د هوا حالات: ٠٤:٥٠ — کابل ٣٢°C، هرات ٣٦°C، مزار شريف ٤٢°C، کندهار ٤٠°C، هلمند ٤٢°C، فراه ٤٢°C، غزنی ٢٩°C — ٠٧:٠٧

د ورځپاڼو رئيس: انجنيرعُزير بريالی
آمر او مسئول مدير: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډيزاينر: يما عرب
د ويبپاڼي مدير : ګل ولي افغانيار
چاپ پته: مطبعه صنعتی احمد صمدی - چهار راهی صدارت - بلال مارکيت
پته: اتمه ناحيه د حضوري چمن ختيځ-کابل

بريښنايي بڼه — X
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

د ۱۴۰۵ کال د عمومي کانکور او ديني مدرسو ازموينو مخکښ بريالي زده کوونکي وستايل شول

د ۱۴۰۵ کال د عمومي کانکور او ديني مدرسو ازموينو مخکښ بريالي زده کوونکي د ازموينې ملي ادارې له لوري د حکومت د رسنيو په مرکز کې د يوې غونډې په ترڅ کې وستايل شول.

د رياست‌الوزرا اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي په ياده غونډه کې ځوانان د هېواد د راتلونکي جوړوونکي وبلل او د ۱۴۰۵ کال د عمومي کانکور او ديني مدرسو ازموينو مخکښو ته په خطاب کې وويل: «تاسو ځوانان د افغانستان د راتلونکي جوړوونکي ياست او د افغانستان راتلونکی ستاسو په لاسونو کې ده. که تاسو افغانستان جوړ نکړئ؛ د پرديو په لاسونو هېڅکله هم هېواد نه جوړېږي.»

ښاغلي حنفي ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت به افغان ځوانانو ته د غوره علمي

چاپېريال برابرولو او د هغوی د ظرفيت لوړولو په موخه د شته امکاناتو په نظر کې نيولو سره هېڅ ډول بېغوري ونه کړي.

په ورته مهال د اطلاعاتو او فرهنګ وزير شيخ شبر احمد حقاني وويل: «ډېر د خوښۍ ځای دی، چې نن د امن په فضا کې خپل مخکښ بريالیو زده کوونکو په ستاينغونډه کې ګډون کوو.»

ده زياته کړه، چې اوس مهال افغانستان په هره برخه کې مثبت لوري ته روان دی او د کانکور په ازموينه کې بريالي شوي زده کوونکي هم بايد په ښه روحيه له هر ډول تعصب پرته خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، څو خپلو خلکو او هېواد ته د خدمت جوګه وګرځي.

دغه راز د ازموينو ملي اداري رئيس شيخ عبدالباقي حقاني، د يادو مراسمو د ترسره کولو موخه د ځوانانو په ځانګړې توګه د ۱۴۰۵ کال د عمومي کانکور او ديني مدرسو ازموينو د مخکښو بريالیو زده کوونکو هڅې د ستايلو وبللې او وې ويل: افغانستان ديني او عصري علومو ته اړتيا لري او اسلامي امارت دواړو علومو ته يو ډول پاملرنه کوي ...

۲مخ

خوست کې د دوو جوماتونو د جوړېدو او بيارغونې چارې پيل شوې

د خوست د ارشاد، حج او اوقافو رياست مسؤلين وايي، چې د دغه ولايت په دوو ولسواليو کې د څه باندې ۸.۷ ميليونه افغانيو په لګښت د يوه نوي جومات د جوړېدو او د يوه بل جومات د بيارغونې چارې پيل شوې دي.

د ياد ولايت د ارشاد، حج او اوقافو رياست مطبوعاتي مسؤل محمد بلال باختر اطلاعاتي اژانس ته ويلي، چې د اسماعيل خېلو او مندوزيو ولسوالۍ د کندې کلي پر ۹۶ متره مربع ځمکه د هاوس مؤسسې او د سيمې اوسېدونکو په ونډه د نږدې يو ميليون افغانيو په لګښت د يوه جومات د جوړېدو چارې پيل شوې، چې له بشپړېدو وروسته به په يو وخت کې د شاوخوا ۱۵۰ لمونځ کوونکو د ځايېدو ورتيا ولري. د نوموړي په وينا، په بله پروژه کې د عليشېرو...

۲مخ

سږ کال په افغانستان کې تر کښت لاندې ساحه ۲/۱۰ سلنه زياته شوې

د احصايې او معلوماتو ملي اداره وايي، روان ۱۴۰۵ کال کې د تېر کال په نسبت په افغانستان کې تر کښت لاندې ساحه د پر وخت ورښتونو او مناسبو اقليمي شرايطو له امله ۲/۱۰ سلنه زياته شوې ده.

د احصايې او معلوماتو عمومي اداري خبرپاڼه کې راغلي، چې د ريموټ سنسنګ ټکنالوجۍ او سپوږمکيزو انځورونو د تحليل او ارزونې پر بنسټ، په ۱۴۰۵ کال کې د هېواد د اوبيزو او للمي کرنيزو ځمکو تر کښت لاندې سيمې تثبيت کړې، چې پر بنسټ يې ټوله کرنيزه ځمکه څه باندې ۳ ميليونه هکتاره ده، چې له دې ډلې ۲/۱ ميليونه هکتاره اوبيزه او نږدې ۸۷۴ زره هکتاره للمي ځمکه ده.

سرچينه دغه‌راز زياتوي، ارزونې ښيي، چې په روان ۱۴۰۵ کال کې د ۱۴۰۴ کال په پرتله د هېواد تر کښت لاندې سيمو کې ۲/۱۰ سلنه زياتوالی راغلی دی چې په اوبيزو کښتونو کې ۳ سلنه او په للمي کښتونو کې ۳۳ سلنه زياتوالی ثبت شوی دی. يادې اداري ليکلي، دا زياتوالی روان کال د پر وخت ورښتونو او مناسبو اقليمي شرايطو له امله راغلی دی. خبرپاڼې د معلوماتو له مخې، د ولايتونو په کچه، په ۱۴۰۵ کال کې تر ټولو ډېر اوبيز کښت (څه‌باندې ۲۶۲ زره هکتاره) په هلمند کې شوی له هغې وروسته کندهار د نږدې ۱۶۳ زره هکتاره، هرات د نږدې ۱۵۷ زره هکتاره او کندوز ولايت د نږدې ۱۳۶ زره هکتاره اوبيز کښت سره هغه ولايتونو دي، چې تر نورو ډېر اوبيز کښت لري. ياده اداره زياتوي، د دې ترڅنګ، تر ټولو ډېر للمي کښت (نږدې ۱۵۷ زره هکتاره) په تخار کې شوی او له هغې وروسته بدخشان ...

۲مخ

غزني ښار کې د ملکي روغتون سړک د پراخولو چارې پيل شوې

د غزني ښاروالي وايي، په دغه ښار کې د ملکي روغتون د سړک د پراختيا چارې د څه باندې ۴۰ ميليون افغانيو په لګښت پيل شوې، چې له بشپړېدو سره به يې ترافيکي ستونزې راکمې شي. د غزني ښاروال مولوي ابومحمد ثابت د پروژې د پرانيستې په مراسمو کې وويل: دغه سړک چې د کابل ـ کندهار له عمومي لارې تر بهلول سړک پورې غځېدلی، څه باندې يو کيلومتر اوږدوالی لري او د پروژې له مخې به ۳۰ متره پراخ شي، دواړو غاړو ته به يې معياري ويالې، پلې لارې او نور اړين ښاري تأسيسات جوړ شي. ده زياته کړه: د دې پروژې له بشپړېدو سره به ترافيکي ګڼه‌ګونه کمه او ناروغان به په کم وخت کې تر ملکي روغتونه رسېږي او د ښار د ترافيکي نظم په ښه‌والي کې به مهم رول ولوبوي.

د نوموړي په خبره چې د دې پروژې چارې بايد مخکې پيل شوې وای؛ خو د سړک په اوږدو کې د يو شمېر غيرقانوني هټيو او شخصي ودانيو شتون د هغې د پلي کېدو پر وړاندې جدي خنډونه رامنځته کړي وو.

ښاروال وويل، چې دغه پروژه د ښاروالۍ له داخلي بوديجې تمويلېږي او ټاکل شوې د پنځو مياشتو په موده کې بشپړه شي.

ده دغه‌راز زياته کړه، ښاروالي په نږدې راتلونکي کې د يو شمېر نورو پرمختيايي پروژو د پلي کولو پلان هم لري.

په همدې حال کې، د غزني ښار يو شمېر اوسېدونکو د دې پروژې د پيل هرکلی کړی او وايي، د سړک ...

۲مخ

نيمروز کې د نږدې يو ټن درملو د قاچاق مخه ونيول شوه

د نيمروز د فرعي ګمرکاتو رياست مسؤلين وايي، چې د ياد ولايت د چهاربرجک ولسوالۍ اړوند په ډک سيمه کې د نږدې يو ټن درملو د قاچاق مخه نيول شوې ده. د نيمروز د فرعي ګمرکاتو رئيس ملا عبدالغفار محمود باختر اطلاعاتي اژانس ته ويلي، ۸۰۰ کيلوګرامه درمل، چې په يو موټر کې ځای پر ځای شوي وو او غوښتل يې له پاکستان څخه يې نيمروز ته قاچاق کړي، د ګمرکي مسؤلينو له لوري کشف او ضبط شوي دي. د نوموړي په وينا، د يادو درملو د قاچاق په تړاو تر اوسه څوک نه دي نيول شوي. د نيمروز د فرعي ګمرکاتو مسؤلينو ټينګار کړی، چې د قاچاق د مخنيوي او د غيرقانوني توکو پر وړاندې به خپلې هڅې لا پياوړې کړي، څو د خلکو روغتيا او اقتصادي ګټې خوندي وساتل شي. د يادونې وړ ده، چې په دې وروستيو کې د نيمروز په بېلابېلو سيمو کې د انساني درملو او نورو قاچاقي توکو د لېږد ګڼې هڅې شنډې شوې دي.

پکتيا کې د وسلو او مهماتو لويه زېرمه کشف او ضبط شوې

د کورنيو چارو وزارت خبر ورکړی، چې د پکتيا د ډنډ پټان ولسوالۍ په ناري چينې سيمه کې امنيتي ځواکونو د کشفي عملياتو پر مهال د وسلو او مهماتو يوه زېرمه کشف او ترلاسه کړې ده.

ياد وزارت وايي، د ترلاسه شويو مهماتو په ډله کې ۸ زره د MP مرمۍ، ۱۲ د لاسي نارنجک مرمۍ او ۵۰۰ د دهشکې مرمۍ شاملې دي.

د لومړنيو معلوماتو له مخې، دا مهمات قاچاق وړونکو پاکستان ته د لېږد لپاره پټ کړي وو؛ خو د امنيتي ځواکونو له لوري کشف او ضبط شوي دي.

د يادې پېښې په تړاو تر اوسه څوک نه دي نيول شوي؛ خو امنيتي سرچينو ويلي، د عاملينو هويت تثبيت شوی، له بشپړو څېړنو وروسته به ونيول شي او قانوني چلند به ورسره وشي.

له ايران او پاکستانه ۵۵۷ کورنۍ افغانستان ته راستنې شوې

د مهاجرينو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسيون خبر ورکړی، چې د افغان مهاجرينو ۵۵۷ کورنۍ له پاکستان او ايران څخه هېواد ته راستنې شوې دي. د ياد کمېسيون دارالانشاء د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ليکلي، چې د

چنګابش په ۲۰مه نېټه د ننګرهار ولايت د تورخم له لارې ۵۱۴ کورنۍ، د کندهار ولايت د سپين بولدک له لارې ۴۰ کورنۍ او د هرات د اسلام قلعه له لارې ۳ کورنۍ افغان مهاجرين خپل هېواد ته راستانه شوي دي.

د خبرپاڼې د معلوماتو له مخې؛ په تورخم کې له ۴۹۷ کورنيو، سپين بولدک کې له ۴۰ کورنۍ، هرات کې له ۳ کورنيو او کابل کې له ۱۵۰ کورنيو سره مرسته هم شوې ده.

د مهاجرينو ستونزو د رسېدنې عالي کمېسيون په خبرپاڼه کې همدارنګه څرګنده شوې، چې په ياده نېټه ټولټال ۲۸۶۴ مهاجرين خپل هېواد ته راستانه شوي دي. راستنو شويو کورنيو ته د دغه کمېسيون د اطلاعاتو...

۲مخ

بهرني لنډ خبرونه

ايران پر متحده عربي اماراتو، اردن او قطر هوايي بريدونه کړي

د ايران سپاه پاسداران اعلان کړی، چې د اردن په شهزاده حسن هوايي اډه کې يې د امريکا پوځي تاسيساتو پر لور څو توغندي توغولي دي. د ايراني رسنيو د راپورونو له مخې، په دغو بريدونو کې د يادې اډې د قوماندې او کنټرول يو مرکز ويجاړ شوی او د MQ-9 ډوله بې‌پيلوټه الوتکو د ساتنې ځای هم له منځه تللی دی. دغه‌راز متحده عربي اماراتو اعلان کړی، چې د دغه هېواد هوايي دفاعي سيستم د ايران له لوري د توغنديزو او بې‌پيلوټه الوتکو بريدونو پر وړاندې د مقابلې په حال کې دی. د الجزيرې خبري شبکې د راپور له مخې، د متحده عربي اماراتو دفاع وزارت ويلي، هغه چاودنې، چې د هېواد په بېلابېلو سيمو کې اورېدل شوې، د هوايي دفاعي سيستم د فعاليت او د ايراني توغنديو او بې‌پيلوټه الوتکو د شنډولو له امله رامنځته شوې دي. بل لور ته، د قطر دفاع وزارت اعلان کړی، چې د دغه هېواد هوايي دفاعي سيستم هغه توغنديز بريد شنډ کړی چې د قطر پر لور شوی و.

ويتنام کې د يوې کښتۍ چپه کېدو پېښه؛ ۱۵ هندي سيلانيان مړه شوي

د راپورونو له مخې، د ويتنام په سوېل کې د «فو کوک» ټاپو ته څېرمه د يوې کښتۍ چپه کېدو له امله لږ تر لږه ۱۵ هندي سيلانيان مړه او ۲۱ نور ژغورل شوي دي.

الجزيرې راپور ورکړی، چې په دې کښتۍ کې ۳۲ هندي سيلانيان او څلور د عملې غړي سپاره وو، چې د «فو کوک» ټاپو ته څېرمه چپه

شوې ده. چارواکو ويلي، چې ټول تېيان له ژغورنې وروسته روغتون ته لېږدول شوي؛ خو د پېښې کره لامل تر اوسه نه دی څرګند شوی.

ځايي رسنيو راپور ورکړی، چې دغه کښتۍ د شنبې ورځې له غرمې وروسته د «هون مای روت نګوای» له سيلانيز ټاپو خوځېدلې وه او د «ان توی» نړيوال بندر پر لور د بېرته ستنېدو پر مهال له ساحل څخه شاوخوا ۴۰۰ متره لرې له پېښې سره مخ شوه. د سرچينې د معلوماتو له مخې، په دې پېښه کې لږ تر لږه ۱۵ هندي سيلانيان مړه او ۲۱ نور ژغورل شوي دي. په هانوی کې د هند سفارت ...

۲مخ

جرمني کې يو ډاکټر د ۱۲ ناروغانو د قصدي وژنې اعتراف وکړ

د جرمني د عدلي او امنيتي چارواکو په وينا: يو ډاکټر چې د «جوهانس ايم» په نامه پېژندل کېږي، د ۱۲ ناروغانو د قصدي وژنې اعتراف کړی دی. ويل کېږي چې نوموړي د ناروغانو کورونو ته د درملنې لپاره د ورتګ پر مهال هغوی ته د بېلابېلو درملو وژونکې پيچکارۍ ورکولې، چې له امله يې ناروغان خپل ژوند له لاسه ورکاوه.

د راپورونو له مخې، نوموړي د محکمې د بهير پر مهال د ۱۲ ناروغانو د وژنې پړه منلې او ادعا يې کړې، چې موخه يې دا وه، څو ناروغان له سخت درد او اوږدمهاله کړاو څخه خلاص کړي؛ خو څارنوالۍ دا عمل قصدي او له قانون سره په ټکر کې بللی او د سختې سزا غوښتنه يې کړې ده. د محکمې د اسنادو له مخې، دغه ډاکټر د ۲۰۲۴ کال په جولای مياشت کې له نيول کېدو وړاندې يوازې په يوه ورځ ...

۲مخ